د بلوڅو سیاسي
او
مزاحمتي تحریکونه

Ketabton.com

لیکوال: ح حقویش

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې لیکنې ځانګړنې

لیکنه: د بلوڅو سیاسي او مزاحمتي تحریکونه
لیکوال: ح حقویش
بڼه: پي ډي ایف
نېټه: ۲۰۲۵ زېږدیز کال د اکتوبر ۳۰

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بلوڅو سیاسي او مزاحمتي تحریکونو!

د بلوڅو قامپاله سیاست، له ریاست څخه د خپلو حقونو پر سر ناراضي، او د خپلواکۍ لپاره وسله واله مبارزه یې خپل تاریخ لري. د ۱۹۴۸ز کال د مارچ پر ۲۷مه بلوڅان د پاکستان برخه شول، له دې سره سم د خان قلات احمد یار خان کشر ورور شهزاده عبدالکریم د پاکستان پروړاندې وسله وال پاڅون وکړ، دغه مهال یانې په ۱۹۴۸ز کال کې د بلوڅو د قلات ریاست نشنل ګوند یوازنۍ ګوند وو. شهزاده عبدالکریم ډیر ژر پخپله وسله واله مبارزه کې پاتې راغی او ونیول شو، او پاکستان د قلات ریاست پر نشنل ګوند بندیز ولګاوه، د یاد ګوند غړو خپلو سیاسي هلو ځلو په پایله کې په ۱۹۵۵ ز کال کې د "استمان ګل" پر نامه یو بل ګوند جوړ کړ، مشر یې شهزاده عبدالکریم شو چې له څو کلن بند څخه راخوشي شوی و. محمد حسین عنقاء د ګوند سیکرټري وټاکل شو، استمان ګل له قامپالو او نورو ګوندونو سره یوځای خپل جمهوري عمل ته دوام ورکړ. خو استمان ګل په راروان کال د ۱۹۵۶ز کال د ډسمبر پر ۲مه د پاکستان نشنل

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوند سره یوځای شو، پې این پې د مظلومانو د حقونو او د ون یونټ د ختمولو لپاره مبارزه اعلان کړه، چې په دې سره د نورو سیمو ترڅنګ د مشرقي پاکستان قامپال هم ورسره ملګري شول، چې له امله یې د ۱۹۵۷ز کال د جولائي پر ۲۵مه د یوه بل ګوند عوامي نشنل ګوند تر نامه لاندې سیاست پیل کړ، په نشنل عوامي ګوند (نیپ) کې د بلوڅو ترڅنګ نور ټول قامپاله سره یوځای شول.

په ۱۹۵۷ز کال کې خان قلات احمد یار خان د ریاستِ قلات د بحالۍ لپاره یوځل بیا مبارزه پیل کړه، ډیری قبایلي مشران په غونډو او مظاهرو کې ورسره یوځای شول، خو له بده مرغه چې د ۱۹۵۸ ز کال مارشلا یې هرڅه له خاوره سره خاورې کړل او هغه یې له سختو حالاتو سره مخامخ کړل، خو له ۱۹۵۸ کال وروسته زهري، مینګل قامونه او له دې وروسته مري او بګټي قامونو په یوځای د نیپ تر تګلارې لاندې د بلوڅو د راټولولو مبارزه وکړه. ددې ترڅنګ کله چې د ایوب خان په وخت کې په بلوچستان کې پوځ جګړې پیل کړې، نو شیرمحمد مري یې پروړاندې وسله واله مبارزه پیل کړه، او د خپل تحریک نوم یې "پراري" کېښود، چې په دې سره اکبر بګټي هغه ته د جنرال شیروف خطاب وکړ، شیرمحمد مري په عام ډول جګړه نشوای کولی، نو د چین، کیوبا، ویتنام او الجیریا کې له پېښو څخه یې چریکي جګړې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کړې. ده د ۱۹۶۳ز کال تر جولائي پورې ۲۲ پراري کمپونه لرل، چې په هر کمپ کې ۴۰۰ سرتیري اوسېدل او د بلوڅو د خپلواکۍ لپاره یې څو سوه نور سرتیري هم راغوښتلی شوای. پراریانو له پاکستاني پوځ سره له مخامخ او لویې جګړې ډډه کوله چریکي بریدونه یې کول، چې پروړاندې پوځ هم زور واخیست او بمبارۍ یې باندې وکړې، د بمباریو په پایله کې د مري سیمي او د شیرمحمد د خپلوانو ۱۳زره ایکړه باغونه یې تباه او له منځه یوړل، په ۱۹۶۴ز کال کې ۵۰۰ پراریانو په یوه پوځي کمپ برید وکړ او ډېر تاوان یې وروړوه. کله چې په ۱۹۶۹ز کال کې د ایوب خان پرځای یحییٰ خان واکمن شو، ون یونټ یې ختم کړ اوربند یې اعلان کړ، په دې سره شیرمحمد له غرونه کښته شو، او په ۱۹۷۳ز کال دی هم د حیدرآباد په سازش کېس کې ونیول شو، کله چې د ضیاالحق د مارشلا پرمهال خوشې کړل شو په ۱۹۸۰ز کال کې لومړی کابل او بیا ډهلي ته ولاړ هلته اوږده موده پاتې شو. او هلته د ۱۹۹۳ز کال د مئ پر ۹مه مړ شو، مړی یې د مئ پر ۱۱مه بلوچستان ته راوړ او د کوهلو په نیسوبا کې خاورو ته وسپاره. شیر محمد مری د سردار خیر بخش مري نژدې ملګری، هغه وخت خلکو وپېژانده کله چې یې په ۱۹۴۶ز کال کې د میر نهالان خان بجاراني سره یوزای د مظلوم ګوند بنسټ کېښود، هغه په

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوهلو کې د ګوند لومړنی کنویشن راوغوښت چې په زرونو خلکو ګډون پکښې وکړ، او په پایله کې دی ونیول شو.

له ۱۹۶۰ز کال وروسته د بلوڅو مبارزې زور واخیست چې له امله یې مخکښه مشران خیر بخش مری، نواب اکبر خان بګټی، غوث بخش بزنجو او عطاء الله مینګل ونیول شول. په ۱۹۶۸ز کال کې نیپ په دوو برخو ولي خان ګروپ او باشاني ګروپ باندې ووېشل شول، او بلوڅ مشران په نیپ کې له ولي خان سره شول، همدغه کال د ایوب خان د ډیکتاتورۍ پرخلاف او د منتخب سپول حکومت د بحالۍ په حق کې په ټول پاکستان کې احتجاجونه پیل شول، د احتجاجونه له امله ایوب خان ټوله سیاستوال په یوه ګردې میز سره راټول کړل. د ایوب خان له تګ وروسته د بلوڅو ټول سیاسي بندیان خوشې شول او یوځل بیا د سیاست ډګر ته راووتل، د ۱۹۶۰ز کال په پیل کې چې بلوڅ زده کوونکو د "ورنا وانده ګل" په نامه کوم تنظیم جوړ کړی وو، په هغه کې یې سیاست پیل کړ. چې د نیپ تر اثر لاندې یې بلوڅ ځوانانو ته د سیاسي درس ښودنه کوله، او په ۱۹۶۸ز کال کې د نیپ په مرسته په کراچۍ کې د بلوچ زده کوونکو یو کنونشن راجوړ کړ، او هلته یې د بلوڅ سټوډنټس ارګنایزیشن (بي ایس او) بنسټ کېښود، خو ډیر ژر په بي ایس او کې درز پیدا شو او د بي ایس او (اینټي سردار) پر نوم د زده

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکو یو بل تنظیم راپیدا شو، او د نیپ د پالیسیو خلاف یې بڑغ پورته کړ، بیا یې په ۱۹۷۲ز کال کې د پاکستان پیپلز ګوند د زده کوونکو د ډلې په توګه کار پیل کړ او د بي ایس او (عوامي) پر نوم مشهوره شول.

د ۱۹۷۰ز کال په ډسمبر کې انتخابات وشول، په بلوچستان او پښتونخوا کې نشنل عوامي ګوند (نیپ) زیاتې څوکۍ ترلاسه کړې، د ۱۹۷۲ز کال د مئ پر لومړۍ نېټه د نیپ حکومت په بلوچستان کې غوث بخش بزنجو د صوبې ګورنر وټاکه، د ۱۹۷۳ز کال په لومړیو کې رسنیو د نیپ په حکومت پسې راواخیسته، چې بلوڅ مشرانو په لندن کې د جلاوطنۍ پرمهال د پاکستان پرخلاف پلان جوړ کړی دی، چې (د لندن پلان) پر نوم یې رامخکې کړ، همدا ډول د ۱۹۷۳ز کال د فبروري په میاشت کې مرکزي حکومت خبر ورکړ چې په اسلام آباد کې د عراق له سفارتخانې څخه زیاته وسله او مهمات نیول شوي، او زیاته یې کړه چې د بلوچستان حکومت ددې پلان برخه دی غواړي چې د روسیې په مرسته ایران او پاکستان ته تاوان ورسوي، همدا ډول یې په ۱۹۷۳ز کال کې د بلوچستان لومړنی قامپاله حکومت له منځه یوړ، او پایله کې سردار غوث بخش بزنجو، نواب خیر بخش مری اور سردار عطاءالله مینګل یوځل بیا ونیول شول. د نیپ حکومت د له منځه وړلو وروسته په ۱۹۷۴ز کال کې نواب

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکبر بګټی چې د ناڅرګندو دلایلو له امله له نیپ څخه تللی و د صوبې ګورنر وټاکل شو، په دې وخت په بلوچستان کې د بلوڅ قامپالو مبارزې زور واخیست، چې په دې بل کال یانې ۱۹۷۵ز کال کې په نشنل عوامي ګوند بندیز ولګېد، له بندیز وروسته د ګوند ۸۹ غړي ونیول شول دې پیښې ته د "حیدراباد سازش کېس" هم وایي.

پر نیپ له بندیز او د ملګرو له نیولو وروسته ژر یو بل تنظیم نشنل ډیموکراټیک ګوند (این ډي پي) جوړ شو. چې مشري یې د پنجاب یوه بلوڅ چې د نیپ له غړو سره یې نژدې اړیکې وې کوله. د ۱۹۷۷ز کال د جولائي پر ۵مه ضیاالحق د ذولفقارعلي بوټو حکومت له منځه یوړ او مارشلا یې ولګوله، له دې وروسته د ۱۹۷۸ز کال په جنوري میاشت کې ټول بلوڅ او پښتانه مشران یوځل بیا خوشې کړل شول، له خوشې کیدو وروسته غوث بخش بزنجو د خپلو سیاسي ملګرو سردار خیر بخش مري او سردار عطاالله مینګل څخه خپلې نظریاتي لارې بیلې کړې، خیر بخش مري او عطاءالله مینګل د خپلواکۍ سیاست ته مخه کړه، او غوڅ بخش بزنجو حالات داسې نه بلل نو جمهوري او پارلماني سیاست ته یې مخه کړه د پاکستان نشنل ګوند (پي این پي) پر نوم یې خپل ګوند جوړ کړ.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۸۱ز کال کې سردار عطاالله مینګل د ورلډ بلوڅ ارګنایزیشن په جوړولو کې ډیره ونډه واخیسته، مطلب یې وو چې په اروپا او نارت امریکا کې د بلوڅو له سیاسي هلو ځلو سره مرسته وکړي. د ۱۹۸۰ز کال په پیل کې بي ایس او د زده کوونکو د تنظیم پرخای په سیاست کې د یوه سیاسي ګوند په توګه برخه اخیستله، په ۱۹۸۱ز کال کې د بي ایس او د غړي حمید بلوڅ شهادت د بلوچستان پر سیاست ډیر اثر وکړ. د ۱۹۸۴ کال په کنونشن کې بي ایس او یوځل بیا سره راټوله شوه، او په دې کنویشن کې د بي ایس او مشرانو یوه وسله واله ډله بلوچستان لبریشن مومینټ هم جوړه کړه خو ډیر ژر ورکه شوه. په ۱۹۸۶ز کال کې د ډاکټر یاسین بلوڅ او ډاکټر کهوُر خان په مشرۍ بي ایس او یوځل بیا په دوو ډلو وویشل شوه.

د ۱۹۸۸ تر پایه بي ایس او په دوو ډلو وېشلې وه، له دوی څخه یوې ډلې د ډاکټر عبدالحي بلوڅ بلوچستان نشنل مومینټ (بي این ایم) او بلې ډلې د سردار عطاالله مینګل بلوچستان نشنل ګوند (بي این پي) د سپورټ کولو اعلان وکړ، په ۱۹۸۷ز کال په بلوچستان کې د یوت مومینټ پیل وشو، په دې تحریک کې دوو یوت ګوندونو خاص ونډه واخیسته، چې پکښې د سردار اختر مینګل او ډاکټر عبدالحي په مشرۍ کې جوړېدونکی نشنل یوت مومینټ، همداسې د رزاق بګټي او

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

حبیب جالب لخوا جوړېدونکی پروګریسیو یوت مومینټ شامل وو. خو ډیر ژر دواړو د یو بل پر وړاندې له زوره کار واخیست، چې په پایله کې دواړه یوت مومینټه ډیر وخت پاتې نشول. (بي این وای ایم) چې د پارلماني سیاست خلاف وو اوس د قامپاله اتحاد بلوچستان نشنل الاینس (بي این اې) سره په اتحاد کې شامل شول، او هغوی د راروان کال د انتخاباتو په تیاریو بوخت وو، پي این پي د ۱۹۸۸ په انتخاباتو کې سخته ماته وخوړله، ان غوث بخش بزنجو خپله د قامي اسمبلۍ څوکۍ هم نه وګټله، په ۱۹۸۹ز کال کې بي این وای ایم د یو یوت مومینټ پرځای د نوي سیاسي ګوند په توګه رامخکې شو، چې د بلوچ نشنل مومینټ (بي این ایم) په نوم وپېژندل شو.

کله چې د ۱۹۹۰ز کال د اګست پر ۶مه صدر غلام اسحاق خان د غلا په تور د بېنظیر بوټو حکومت له منځه یوړ، نو بلوچستان اسمبلۍ هم له منځه ولاړه، بي این ایم د یوه قوي سیاسي ګوند په توګه رامخکې شو، خو له بده مرغه چې په ۱۹۹۰ کال کې په دوو برخو وویشل شو، د بي این ایم (مینګل) مشر سردار اختر مینګل او د بي این ایم (حی) مشر ډاکټر عبدالحی بلوچ جوړ شول.

په بلوچستان کې د قامپاله حکومت له ختمېدو او د بي این اې له ناکامۍ وروسته نواب اکبر بګټي د جمهوري وطن ګوند

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

(جي ډبلیو پي) پر نوم خپل سیاسي ګوند جوړ کړ، خو ګوند یې له ډیره بګټي دباندې هیڅ اثر نه درلود. په ۱۹۹۶ کال کې بي این ایم (مینګل) په بي این پي کې مدغم شوه، خو بي این ایم (حی) د وخت په تېرېدو نور هم وویشل شو.

په ۱۹۹۷ز کال کې بلوڅ قامپالو ټولټاکنې وګټلې او د اختر مینګل په مشرۍ کې یې حکومت جوړ کړ، خو کله چې د ۱۹۹۸ز کال د مئ پر ۲۸مه د پاکستان حکومت په چاغي کې اټومي ازموینه وکړه، په دې سره صوبایي حکومت سخت احتجاج وکړ، او د مئ ۲۸ یې توره ورځ وبلله، د صوبایي حکومت او استېبلشمنټ ترمنځ اړیکې خرابې شوې چې په پایله کې اختر مینګل له وزارتِ اعلیٰ څخه استعفا ورکړه، د بي این پي ځینو ناراضه غړو د بلوچستان نیشنل ډیموکریټک ګوند (بي این ډي پي) پر نوم نوی ګوند جوړ کړ، په دې وختونو کې د بلوچستان نشنل ګوند (عوامي) هم په سکرین راڅرګند شو، بیا په ۲۰۰۳ز کال بي این ډي پي او بي این ایم سره یو شول نشنل ګوند (این پي) یې جوړه کړه، او د غوث بخش بزنجو د کورنۍ چې کوم خلک په بي این پي کې وو هغه هم این پي ته ولاړل.

د بي این ایم د غړو نظریاتي اختلافات هم راڅرګند شول، ډاکټر حی بلوڅ، ډاکټر مالک بلوڅ، مولابخش دشتي په دې هڅه کې وو چې په پارلماني سیاست کې حق ترلاسه کولای

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو، خو غلام محمد بلوڅ او د بي ایس او سیکشن غړي ډاکټر الله نظر صفا صفا د خپلواکۍ د غورځنګ پرمخ وړلو اعلان وکړ، د بي این ایم غړو د نشنل ګوند پر شمولیت له غلام محمد بلوڅ څخه لار جلا کړه، خو غلام محمد بلوڅ بي این ایم بیا سره را یوزای کړ دی یې مشر شو، بي این ایم د بلوڅو د خپلواکۍ غوښتونکو ملاتړ وکړ او ددې ترڅنګ یې په صوبه کې د رواني وسله والې مبارزې هم څرګند ملاتړ وکړ. خو په دې وخت په بلوچستان کې جمعیت علماء اسلام (جې یو ای) او جماعتِ اسلامي (جې ای) ترڅنګ نورو مذهبي ګوندونو هم سر راښکاره کړ.

په ۲۰۰۳ز کال کې د نواب اکبر بګټي ګوند جمهوري وطن ګوند، د سردار اختر مینګل ګوند بلوچستان نشنل ګوند، د ډاکټر عبدالحي ګوند نشنل ګوند او د نواب خیر بخش مري ګوند حق توار په شمول څلور ګوندي اتحاد رامنځته شو، یاده دې وي "چې په ۱۹۹۷ز کال کې د پاکستان ټولټاکنې کېدې نو نواب خیربخش مری هم د جلاوطنۍ له ژوند څخه راغی نوی ګوند حق توار یې جوړ کړ، او د هغه زامن میر چنګیز مری، میر ګزین مری او میر حیربیار مري هم په ټولټاکنو کې د ازاد امیدوار په حېث برخه اخیستې وه او د صوبایي اسمبلۍ څوکۍ یې ګټلې وې." څلور ګوندي اتحاد د بلوچستان د حقونو لپاره ولاړ شو. وفاق ډیره هڅه وکړه خو د بلوڅو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتحاد له خپلو غوښتنو پرشا نشو، بلاخره مسلم لیګ د بلوڅو د ګوندي اتحاد ټولي غوښتني ومنلې، تردې مخکې سردار عطاءالله مینګل او نواب اکبر خان بګټي د بلوڅو د یوه ګوند جوړولو ډیره هڅه وکړه، خو د ناڅرګندو دلایلو له امله بریالي نشول.

د ۲۰۰۶ز کال د اګست پر ۲۶مه پوځ نواب اکبر بګټي وواژه، چې په دې سره ټول بلوچستان د حکومت پرخلاف له قهره ډکې مظاهرې پیل کړې، څلور ګوندي اتحاد پنځلس ورځې ماتم اعلان کړ، راروان میاشت ددې پېښې پرخلاف د بې این پې غړو قامي او صوبایي اسمبلۍ ته استعفا ورکړې، حالات تاوتریخوالي ته ورسېدل، وسله والو مبارزینو بریدونه زیات کړل، په همدغه کال سردار اختر مینګل له ګوادر څخه اسلام اباد ته لانګ مارچ اعلان وکړ خو دی ونیول شو، او په قفس کې به یې عدالت بوتللو.

په ۲۰۰۶ز کال کې د اکبر بګټي او بالاچ مري له شهادت وروسته څلور ګوندي اتحاد هم کمزوری شو، ځکه خیربخش مري پارلماني سیاست پرېښود، او نشنل ګوند په پارلماني سیاست کې د برخې اخیستلو پرېکړه وکړه، د نواب اکبر بګټي له شهادت وروسته جې ډبلیو پي هم په مختلفو ډلو وویشل شوه، په داسې حالاتو کې د بګټي د وفادارو ملګرو د راټولولو لپاره د هغه زوی او د هغه سیاسي وارث

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

براهمداغ بګټي د بلوچ ریپبلکن ګوند (بي ار پي) پر نوم یو نوی تنظیم جوړ کړ، خو دی پخپله په افغانستان کې جلاوطن و، ده په ۲۰۰۶ کال کې هڅه وکړه چې بي ایس او سره یوزای کړي خو بریالی نشو او تنظیم لا نور وویشل شو. دا مهال بي ایس او درې ډلې په دریو مختلفو نظریاتو په بلوچستان کې سیاست کوي، بي ایس او (ازاد) په بلوچستان کې د خپلواکۍ د تحریکونو ملاتړ کوي، بي ایس او (پجّار) د نیشنل ګوند د زده کوونکو ډله ده، بي ایس او (محی الدین) د بي این پی د زده کوونکو ډله ده.

کله چې په ۲۰۰۸ز کال په بلوچستان کې پیپلز ګوند ټولټاکنې وګټلې او سردار اسلم رئیساني یې وزیراعلی کړ، په دې حکومت کې چې قامپاله غلام محمد بلوچ، لالا منیر او شیر محمد بلوچ ووژل شول، له دې وروسته بلوچستان کې یوځل بیا خلک راووتل، د بلوڅو سرتېرو او پوځي ادارو ترمنځ حالات دومره تاوتریخوالي ته ورسېدل چې په زرګونو خلک کډوال شول، او ترمنځ یې زیات خلک ووژل شول.

په ۲۰۱۳ز کال کې بیا ټولټاکنې وشوې او د نشنل ګوند غړی مالک بلوچ وزیراعلی وټاکل شو. خو ریاست د بلوڅو پروړاندې له هغه وروسته د تشدد پالیسي خپله کړې ده له کله چې امریکا افغانستان ته راغله او پاکستان د ترهګرو د

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو پر نوم پیسې ورنه وړلې او د امریکایي ډالرو لپاره یې پښتانه او بلوڅ ورته وژلو.

اوس راځو د بلوڅو د خپلواکۍ غوښتونکو ډلو ته د بلوڅو د خپلواکۍ په مبارزه کې موږ یوازې د دوو ډلو بي ایل اې او بي ایل ایف نومان اوریدلي وو او تر ډیره بریدونه هم دوی کوي او د پاکستاني حکومت په سرخط کې هم دوی دي، خو کله چې د ۲۰۲۴ز کال د اګست پر ۲۷مه پاک انسټیټیوټ فار پیس سټډیز یو راپور Pakistan's Evolving Militant Landscape خپور کړ، چې د بلوڅو د خپلواکۍ لپاره اته ډلې پر وسله واله مبارزه لګیا دي چې په دې کې بي ایل اې او بي ایل ایف لویې ډلې دي، او دا ټول تفصیل یې خپور کړی وو چې موږ یې دلته راخلو.

بلوچستان لبریشن ارمي: بي ایل اې په پاکستان، ایران او افغانستان کې د بلوڅو سیمو یو خپلواکه ریاست غواړي، ددې دوه ډلې دي د یوې مشري حیربیار مری او د بلې بشیر زیب کوي، د بشیر زیب ډله د بلوڅ راجي اجوییي سانګر (براس) چې د څلورو خپلواکي غوښتونکو تحریکونو اتحاد دی برخه هم دی، بشیر زیب د بي ایل اې د مجید بریګېډ مشر هم دی

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم چې استاد اسلم بلوڅ منظم کړی وو، حمال بلوڅ له بشیر زیب سره د لاربښود په توګه دی، ددې ډلې نور مخکښه قوماندانان نور بخش مینګل، رحیم ګل او اغا شیر دل دي، بزدار خان د لوجستیک یونټ مشر دی، د سیمې خلک وایي د بي ایل اې درې برخې دي: عملیاتي یونټ، لوجستیک یونټ او استخباراتي یونټ. جیوند بلوڅ د تنظیم ویاند دی، بي ایل اې خپلې ټولې کړنې په بلوڅ مېشتو سیمو کې ترسره کوي، خو دا ډله د کراچۍ په ځینو سیمو کې هم فعالیت کوي.

د بي ایل اې مرې ګروپ اسفال ګئی د مستونګ ترڅنګ په مچ، هرنائي، نصیر اباد، جعفر اباد، لورالائي، کویټه او اواران ضلعو کې هم فعالیت لري، بل خوا بي ایل اې زیب ګروپ په ساحلي پټۍ او مشرقي بلوچستان هم نظر ساتي. په تېرو دوو کالونو کې د بي ایل اې د فعالیت ساحه د بلوچستان ۲۲ ضلعو ته غځېدلې ده، خو دا ډله په بولان، هرنائي، قلات، کیچ، خضدار، پنجګور، کویټه، سیوی، نوشکي او مستونګ کې په دوامداره توګه بریدونه کوي. د بي ایل اې هدف امنیتي اداري، لویې پروژې او په هغو کې پرته له بلوڅ کاریګرو خاص چینایان او پنجابیان دي.

بلوچستان لبریشن فرنټ: دا ډله ځوانو قامپالو ډاکټر الله نظر، غلام محمد بلوڅ، او واحد قمبر په ۲۰۰۳ز کال کې جوړه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه، په لومړیو کې دوی له بي ایل اې څخه روزنه او مرسته ترلاسه کړه، په سیاست کې دوی له بلوچستان نشنل مومینټ سره تړاو درلود چې ډیری ملګري یې له پاکستان څخه دباندې په مغربي هېوادونو کې اوسیږي. دې ډلې سره بي این ایم او بي ایس او ازاد هم مرسته کوي، دا د قامپاله بلوڅو له منځنۍ طبقې څخه جوړه ده، مشر یې الله نظر د حمال حیدر بلوڅ سره هم نژدې اړیکې لري چې په نړیواله توګه سره تړلې دي، الله نظر یو وخت د مخکني وزیر اعلیٰ مالک بلوڅ په نشنل ګوند کې هم پاتې شوی دی، د ډاکټر الله نظر په اړه ویل کیږي چې د پاکستان او د ایران پولې دواړو خواوو ته ځایونه لري، ځینې شنونکي وایي چې هغه په افغانستان کې دی، د بي ایل ایف په مخکښه غړو کې اختر ندیم او خلیل بلوڅ هم دي، ګورام بلوڅ ددې ډلې ویاند دی، د ایران له پولې سره پورې د کیچ ضلع په دره تحصیل بلیده کې ددې ډلې مرکز دی، دا ډله د مشکېل(خاران)، اوران، پنجګور ضلعو ترڅنګ په بسیمه، واشک، جونۍ/جیواني او د پسنۍ په ساحلي سیمو کې هم فعال دي. له تېرو دوو کلونو دې ډلې پنځه سویلي ضلعې لکه ګوادر، کیچ، لسبیله، پنجګور او اواران مسلسل تر بریدونو لاندې نیولې دي، د چین او سیپیک پرخلاف دا ډلې په کویټه او کراچۍ کې هم په ځینو بریدونه کې لاس لري.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

براس (بلوڅ راجي اجويي سانګړ): د بلوڅ ازادي غوښتونکو دا اتحاد په ۲۰۱۸ز کال کې جوړ شو، بي ايل اې، بي ايل ايف، بلوڅ ريپبلکن ګارډز او بي اين اې پکښې ګډون درلود، چې مطلب يې د چينايانو پر پروژو بريدونه وو، په وروستيو کلونو کې دې اتحاد ډير پرمختګ وکړ، خو کله چې د بي اين اې امام ګلزار ونيول شو له هغه وروسته اتحاد يوڅه ورو شو.

دې اتحاد د ۲۰۲۴ز کال په ټولټاکنو هم بريدونه وکړل، د پاک انسټيټيوټ فار پيس سټډيز د څېړنو له مخې د ۲۰۲۴ز کال د جنوري او فبروري په دوو مياشتو کې دې اتحاد پر سياستوالو، سياسي غړو او امنيتي ځواکونه ۱۸ بريدونه وکړل.

بلوڅ ريپبلکن ارمي (بي ار اې): بی ار اې ته د بګټي مليشه هم وايي چې د نواب اکبر بګټي د قام څخه جوړه ده، له تېرو شپږو کالو يې د ګوادر او کيچ ضلعو پر شمول د بلوڅو په نورو ضلعو کې هم خپل نيټورک خور کړی دی او ځوانان راټولوي، ددوی له جګړمارو سره بي ايل ايف مرسته کوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاکستان سیکورټي اداري فکر کوي، چې د بلوچستان ریپبلکن ارمي د بلوڅ ریپبلکن ګوند عسکري وینګ دی او براهمداغ بګټي دا ډله په کار اچولې ده.

یونایټیډ بلوچ ارمي: دا له بلوچستان لبریشن ارمي څخه جلا شوې ډله ده، د عبدالنبي بنګلزي پر نوم یو سخت زړی بلوڅ قوماندان چې له خلکو او بلوڅ تجارانو څخه به یې روپۍ وړلې له بي ایل اې څخه لیري کړل شو، د یادي ډلې مشر دی.

د بلوڅو خپلواکي غوښتونکې ډلې په عامو خلکو او بلوڅو بریدونه نه کوي، خو بنګلزی وایي کوم بلوڅ چې د خپلواکي غوښتونکو ملاتړی نه وي هغه هم سزاوار دي. بنګلزي وروسته په بي ایل ایف کې شمولیت کړی و، او ددې ډلې دویمي برخې مشري مهران مری کوي چې اوس مهال په لندن کې اوسي او د پاکستان پرخلاف هلې ځلې کوي، په دې ډله کې تر ډیره د مري قام جګړمار دي خو د ساروان او بولان جګړمار هم برخه پکښې اخلي، او دا ډله په چاغي، نوشکي، بولان، لسبیله، بسیمه او واشک ضلعو کې فعاله ده.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلوڅ ریپبلکن ګارډز: کله چې په ۲۰۱۲ز کال په کراچۍ کې د بختیار ډومکي مېرمن او لور ووژل شول، له هغه وروسته ده دا ډله جوړه کړه. د ډومکي واده د براهمداغ بګټي له خور سره شوی و، دا ډله داسې خاص فعاله نه ده خو په نصیراباد کې د شتون یادونه کیږي. خو ددې ترڅنګ په ۲۰۲۳ز کال کې دې ډلې د دوو بریدونو پړه منلې ده، چې یو برید یې په کویټه کې او بل یې په صحبت پور کې کړی دی، او دا ډله د براس اتحاد برخه هم ده.

لشکرِ بلوچستان: دا ډله په ۲۰۰۸ز کال کې جوړه شوه او فعالیت یې تر ډیره په مکران ډویژن کې وو، خو په اوسنیو کلونو کې غیر فعاله مالومیږي.

شنونکي فکر کوي چې په دې کې د مینګل قام او بلوچستان نشنل ګوند مینګل ګروپ ملاتړي دي، خو بي این پي مینګل ګروپ خان د وسله والې مبارزې برخه نه بولي، او د لشکر بلوچستان مشر میر جاوید مینګل دی چې د بي این پي د مشر اختر مینګل مشر ورور دی، دی په لندن او دوبۍ کې اوسیږي او هغه د لشکر بلوچستان سره له هر ډول اړیکو انکار کوي، دی او زوی یې میر نورالدین مینګل پر نړیوال ستیج د بلوچستان د مقدمې پروړاندې کولو بوخت دي، میر نورالدین مینګل UNPO (Unrepresented Nations

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

and Peoples Organizations) کې فعال دی، او په امریکا کې د بلوچستان پر ستونزو هر وخت ویناوې کوي، لشکر بلوچستان په لسبیله، مکران، خضدار او پنجګور کې هم په حرکت کې ده.

بلوڅ نیشنل ارمي: بي این اې په دې وروستیو کې د دوو مهمو مشرانو د مبارزې د پرېښودو له امله زیانمنه شوه، دا ډله په ۲۰۲۲ز کال کې د بلوڅو د دوو ډلو یو بي اې او بي ار اې له یوځای کېدلو څخه جوړه شوه او د بي این اې څخه راجلا شوي سرتیري هم ورسره شول. دوی غوښتل چې د بلوڅو د خپلواکۍ تحریک ته لا وده ورکړي، خو مشر یې ګلزار امام چې په شامبې هم یادېده، د ۲۰۲۳ز کال د مې پر ۲۳مه په کویټې کې په یوه پریس کانفرنس کې له تیري وسله والې مبارزې څخه پښېمانه شو. او له دې څخه وروسته په ډسمبر کې د بي این اې قوماندان او ویاند سرفرازاحمد بنګلزی چې په مرید بلوڅ هم یادېده له خپلو ۷۰ ملګرو سره یوزای یې وسله کېښوده او مبارزه یې پرېښوده.

لکه مخکې چې مو وویل ریاست پاکستان له هغه وخته کله چې امریکا افغانستان ته راغله د امریکایي ډالرو لپاره یې د پښتنو او بلوڅو په لادرکه کېدو، وژنه او خپنه پسې راواخیسته، داسې نه ده چې له دې قامونو سره د ریاست

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان د ظلمونو لړۍ له دغه ځایه راپیلیږي هڅي خو پاکستان د جوړېدو له لومړۍ ورځې پر دې قامونو ظلمونه کوي حقونه یې چور کوي وژني او ځپي یې، د بلوڅو د لادرکه کېدو په اړه د بلوڅو قامپاله تنظیمونه وایي چې د ۱۹۷۰ په لسیزه کې هم ریاستي ادارو خلک لادرکه کولو، چې په دې کې د بي این پي د مشر سردار اختر مینګل مشر ورور اسدالله مینګل او د هغه ملګری احمدشاه هم شامل وو، چې تراوسه یې درک نشته چې وژلي یې دي او چیري یې ښخ کړي دي. خو موږ یې دلته د لنډې مودې د ظلم پر تاریخ ږغیږو چې اوس یې هم په سیمه کې روان کړی دی، چې عام بلوڅان له سکول، کالج، یونورسټي، کورونو او لارو څخه وړي وژني یې بیا یې کورونو ته هیڅ درک نه لګیږي چې سړی یې له حکومت سره بند کې دی که وژل شوی دی، د بلوڅو د لادرکه کېدو لړۍ د پرویز مشرف په وخت کې زور واخیست، چې په ۲۰۰۰ز کال کې له کویټې څخه لومړنی کس علي اصغر بنګلزی لادرکه کړ او ۱۴ ورځې وروسته یې بېرته خوشي کړ، له دې وروسته د ۲۰۰۱ز کال د اکتوبر پر ۱۸مه یې له هغه سره محمد اقبال یوزای د ډګري کالج له مخې څخه لادرکه کړ، ۲۴ ورځې وروسته یې محمد اقبال خوشي کړ خو علي اصغر تراوسه لا درکه دی. چې بیا د بلوڅو د ورکېدا لړۍ پسې دوام وکړ چې تر دا مهاله یې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۸۰۰۰ په شاوخوا کې خلک لادرکه دي، ددې خبرې پخلی د پاکستان پخوانی ولسشمر مشرف په خپل کتاب (د اور په لیکه) کې کوي، وایي: چې پاکستان د میلیونونو ډالرو په بدل کې ترهګر د امریکا سي ای اې ته ورکړل.

د لادرکه بلوڅو د موندنې لپاره هم سولیز تحریکونه شوي دي چې په دې کې د ښځو وندو زیات ده او دا د بلوڅو ښځو زړورتیا هم ثابتوي چې هغه د ورونو ترڅنګ کلکي ولاړي دي، لومړی ځل د ۲۰۱۳ز کال د اکتوبر پر ۲۷مه د نړۍ یو اوږد لانګ مارچ له کویټې څخه د کراچۍ پر لار سیند بیا پنجاب او اسلام اباد ته ولاړی، چې غوښتنه یې د ورکو بلوڅو موندل وو، ددې لانګ مارچ مشري فرزانه مجید او ماما قدیر کوله، د فرزانه مجید ځوان ورور د بي ایس او سینئر وایس چیرمین ذاکر مجید چې د ۲۰۰۹ز کال د جون پر ۸مه ورک شوی دی او تراوسه یې درک نشته، د وایس اف بلوڅ مسنګ پرسنز سپینږیري مشر ماما قدیر زوی جلیل ریکي هم هغه مهال لومړی ورک شوی او بیا شهید کړل شوی وو، په دې مارچ کې سمي دین بلوڅ د ډاکټر دین محمد لور چې هغه مهال څوارلس کلنه وه هم ورسره وه، ددې پلار له اورناچ روغتون څخه په ۲۰۰۹ز کال کې وړل شوی دی او تراوسه یې درک نشته، سمي دین بلوڅ اوس یوځل بیا د خپلو بلوڅو خویندو سره ملګرې ده او بلوڅ یکهجتي کمېټی

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د خپلو ورکو او شهیدانو وروڼو لپاره د حق او انصاف غوښتنه کوي.

او دویم لانګ ګلزار دوست بلوڅ څو ورځې وروسته د ایران سره له تړلې سرحدي ضلعې کیچ له مرکز تربت څخه کویټې ته وکړ چې ۷۷۶ کیلومیټره سفر یې درلود.

کله چې د وایس فار بلوڅ مسنګ پرسنز مشر ماما قدیر مشر زوی جلیل ریکي لادرکه کړل شو، له هغه وروسته یې د کویټې پریس کلب مخې ته یو اعتصابي کمپ جوړ کړ، که څه هم د ماما د زوی مسخه شوی جسد وموندل شو خو اعتصابي کمپ د پخوا پڅېر دوامداره وساتل شو چې دا دې شپاړس کاله یې کیږي خو تراوسه هیڅ انصاف نه دی ورکړل شوی، او دا کمپ په ژمي کې کراچی ته لیږدوي.

د بلوڅو ښځې په لومړي ځل د ۲۰۱۸ز کال په وروستیو او د ۲۰۱۹ز کال په لومړیو کې په زیات شمېر د لا درکو خلکو لپاره په احتجاج راووتلې، په دې کې د ځپل شوې ضلعې اوران اوسپدونکي او د بلوڅ ستوډنټس ارګنایزیشن مشر شبیر بلوڅ خور سیما بلوڅ او د شبیر مېرمن بنین د شبیر بلوڅ د موندلو لپاره کویټې ته راغللې او د لادرکه خلکو د موندلو لپاره یې اعتصاب پیل کړ. چې وروسته په زیات شمېر د لا درکو خلکو د کورنیو ښځو هم ګډون پکښې وکړ.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دې لړۍ دوام وکړ وخت ناوخته به یې احتجاجي مظاهرې کولې.

کله چې په ۲۰۲۳ز کال کې د بلوچستان سي ټي ډي پولیسو د نومبر د ۲۲مې او ۲۳مې ترمنځ شپه کې د څلورو کسانو د وژلو دعوه وکړه، په وژل شویو کسانو کې بالاچ بلوڅ هم وو، د هغه کورنۍ وویل چې بالاچ بلوڅ یې د اکتوبر میاشتې په وروستیو کې د کوره څخه وړی وو، د نومبر پر ۲۰مه یې نیونه هم ښکاره او مقدمه هم پرې درج شوه، د نومبر پر ۲۱مه عدالت ته وړاندې کړل شو او عدالت د سي ټي ډي پولیسو ته د لسو ورځو په ریمانډ ورکړی وو.

د بالاچ بلوڅ له وژنې وروسته د هغه کورنۍ او قامپالو احتجاجي پرلت پیل کړ، چې ولې یې بالاچ بلوڅ وواژه؟ او غوښتنه یې وکړه چې په پېښه کې ښکېل د سي ټي ډي چارواکو پرضد دې مقدمه درج کړل شي. د نومبر پر ۲۳مه په تربت کې د بالاچ د جسد سره احتجاج پیل شو، اووه ورځې وروسته یې د بالاچ مړی خاورو ته وسپاره، د ډسمبر پر شپږمه یې د لانګ مارچ په ښکل تګ پیل کړ، مشري یې ډاکټر صبیحه بلوڅ، سمي دین بلوڅ، سیما بلوڅ او ځینې نورو ښځو یوزای کاوه.

دا مارچ د بلوڅو له ډیرو غرنیو سېمو څخه تېرېده له پنجګور څخه بسیمه، ګریشه، نال، خضدار، سوراب، قلات، منګوچر

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هرڅای چې به په لانګ مارچ تشدد کېده د هغوی شمېر به لا زیاتېده نر او ښځې به ورسره کېدې، شپږمه ورځ د ډسمبر پر ۱۱مه کویټې ښار ته ورسېدل، چې هلته یې په مشرۍ کې مهم رول ډاکټر ماه رنګ بلوڅ ولوباوه، د ماه رنګ بلوڅ پلار غفار لانګو لومړی په ۲۰۰۶ز کال کې لادرکه کړل شو خو څه موده وروسته بېرته وموندل شو، خو په ۲۰۰۹ز کال کې بیا لادرکه کړل شو او په ۲۰۱۱ز کال کې مسخه شوی جسد وموندل شو.

د ریاست د منفي چلند له امله دا لانګ مارچ له مرکزي ښار کویټې څخه د اسلام اباد پر لور روان شو، چې په لاره کې د ریاست لخوا سختې ستونزې ورته جوړې شوې، خو په دې هرڅه سربېره د ۲۰۲۳ز کال د ډسمبر پر ۲۰مه د ډیره اسماعیل خان له لارې اسلام اباد ته ورسېدل، اسلام اباد ته په رسېدو سره حکومت ونیول، له راخوشي کېدو وروسته یې هلته د جنوري تر ۲۳مې پورې د اسلام اباد پریس کلب مخې ته پرلت کښېناوه، خو غوښتنې یې ونه منل شوې ناهیلي بېرته کویټې ته راستون شول او په زرونو خلکو یې مخې ته د هرکلي لپاره ورغلل، چې بیا یې د جنوري پر ۲۷مه په کویټه کې یوه لویه او تاریخي غونډه وکړه، همدا ډول یې خپلې مبارزې ته دوام ورکړ، په بلوڅو ضلعو کې غونډې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړې د خپلو د راپورته کولو او ویښولو لپاره یې فعالیتونو پیل کړل.

کله چې د ۲۰۲۵ز کال د مارچ پر ۱۱مه له کویټې څخه پېښور ته تلونکی د جعفر ایکسپریس پر ریل ګاډي باندې د بولان په ډهاډر سیمه کې د خپلواکی غوښتونکو بلوڅو تنظیم بي ایل اې برید وکړ، او د پاکستان له سیکورټي ادارو سره تړلي ۴۰۰ مسافر یې له ځان سره بوتلل، په غبرګون کې سیکورټي ادارو د مسافرو د موندلو لپاره عملیات پیل کړل.

له پېښې دوه ورځې وروسته ۱۳ مړي دشپې په تاریکه کې په کاسي هدیره کې ښخ کړل شوي وو او په وینو لړلي تابوتونه هلته پراته وو، ددې ترڅنګ پنځه مړي د کویټې سېول روغتون ته وروړل شوي وو.

د بلوڅ ایک جهتي کمېټی غوښتنه وکړه، چې جسدونه دې دوی ته ورکړل شي، دا ریاست هغه بلوڅ وژلي دي کوم چې یې لادرکه کړي وو او اوس یې په جعلي مقابله کې په دې نامه وژلي دي چې بي ایل اې والا دي. خو حکومت د بلوڅ ایک جهتي کمېټی غوښتنه ونه منله او هغوی یې په غبرګون کې احتجاجي پرلت پیل کړ د کویټې کراچی لویه لار یې وتړله، خو د مارچ پر ۲۱مه ریاستي ادارو په دې پرلتوالو تشدد وکړ ډزې یې باندې وکړې چې په پایله کې د یوه ماشوم پر ګډون درې کسه ووژل شول او ۱۳ نور ژوبل شول، خو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې هرڅه سربېره ریاست په ډیري سپین سترګي ددې شهیدانو ایف اي ار هم د بلوڅ ایک جهتي پر مشرانو وکړ.

د مارچ پر ۲۲مه یې د بلوڅ ایک جهتي په لسګونو ملګري په MPO3 کې ونیول او د کویټې تانو ته یې بوتلل، چې وروسته یې نور ملګري راخوشي شول خو د تحریک مشران یې د ماه رنګ په شمول په ګڼ شمېر دروغجنو ایف ای ارز کې بندیان پاتې شول چې دادې اوږده موده کیږي چې د ریاست په بند کې دي.

ددې تحریک د بندیانو د راخوشي کولو لپاره د بلوچستان نشنل ګوند(مینګل) مشر اختر مینګل غبرګون وښود څو ورځې یې په بلوڅ مېشتو سیمو کې کاربندیز او احتجاجونه وکړل او بیا یې د مارچ پر ۲۸م تاریخ د خضدار له وډه څخه لانګ مارچ پیل کړ چې کویټې ته په رسېدو یې د حکومت لخوا مخنیوی وشو، بیا یې هم هلته پر لکپاس پرلت وواهه چې وروسته بې نتیجې پای ته ورسېد.

د بلوڅو ایک جهتي کمېټی ترڅنګ بلوڅو ښځو په "حق دو تحریک" کې هم لویه ونډه درلودله او د خپلو نارینوو ترڅنګ اوږه په اوږه ولاړې وې د حق او انصاف غوښتنه یې کوله، دا تحریک د ۲۰۲۱ز کال د نومبر پر ۱۴مه د بلوچستان د ګوادر خلکو د خپلو حقونو د غوښتلو لپاره د جومات اسلامي د غړي مولانا هدایت الرحمان تر مشرۍ لاندې د "حق دو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحریک" یانې حق راکړئ پیل کړ او پرلت یې کښېناوه، ۳۲ ورځې وروسته د ډسمبر پر ۱۶مه د بلوچستان حکومت ورسره کښېناست او غوښتنې یې د کاغذ پرمخ ومنل شوې، مولانا هدایت الرحمان پرلت ولاړ کړ.

د یادو غوښتنو د منلو په صورت کې یوخل بیا د ۲۰۲۲ز کال د اکتوبر پر ۲۷مه مولانا په ګوادر ښار کې احتجاج پیل کړ، د نارینوو ترڅنګ ښځو هم په زیات شمېر ګډون ورسره وکړ، یاد احتجاجي پرلت ۶۰ ورځې دوام وکړ، خو د پرلت د ختمولو لپاره حکومت په ګوادر کې دفعه ۱۴۴ ولګوله چې له امله یې پنځه کسه یوځای نشي کښېناستلی.

د ۲۰۲۲ز کال د ډسمبر پر ۲۵مه پولیسو د "حق دو تحریک" ۱۳ احتجاج کوونکي ونیول او مولانا خان ګوښه کړ، د ملګرو له نیولو وروسته مولانا هم وغوښتل چې خان پولیسو ته احواله کړي او بند ته ولاړ شي، نو د ۲۰۲۳ز کال د جنوري پر ۱۳مه مولانا د ګوادر عدالت ته ورغی هلته پولیسو ونیوه، له ۱۲۵ ورځې بند وروسته یې د ۲۰۲۳ز کال د مې پر ۱۸مه بېرته خوشې کړ.

مولانا هدایت الرحمان خپل همدا تحریک "حق دو تحریک" د یو سیاسي تنظیم په حیث د ۲۰۲۳ز کال د اګست په میاشت د پاکستان له انتخاباتي کمیسیون سره راجسټر کړ، او دی ټولټاکنو ته ددې تنظیم پر نمایندګي ودرېد او ټاکنې یې وګټلې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

صوبايي اسمبلۍ ته يې لار وموندله. مولانا د خپلو خلکو لپاره په صوبايي اسمبلۍ او پر ميدان دواړو بڼغ پورته کاوه، چې بيا يې د جماعت اسلامي پر ملګرتيا د ۲۰۲۵ز کال د جولائي پر ۲۵مه له کويټې څخه اسلام اباد ته لانګ مارچ وکړ، حکومت يې د اګست پر ۲مه غوښتنې د کاغذ پرمخ ومنلې او دوی لانګ مارچ ختم کړ.

"که چېرې زه په جماعت اسلامي کې نه وای، نو زه به (د خپلواکي غوښتونکي مشر) الله نظر سره په غرونو کې وم". دا خبرې مولانا هدايت الرحمان په ۲۰۲۱ز کال په سُربندن کې يوې احتجاجي مظاهرې ته په خبرو کې وکړې، چې بيا يې د حق دو تحريک جوړ کړ او د هغه له لارې صوبايي اسمبلۍ ته ولاړی.

پای

۲۰۲۵ز کال د اکتوبر ۳۰مه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned with CamScanner

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library